محمد هارون خپل شعشعي


۳۱ اگست ۲۰۱۱

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۳

**۳- بې نومه منثوره رساله :**

د ښاغلي زلمي هيواد مل په هغه کتاب کي، چي د « د هند د کتابخانو پښتو خطي نسخي  يا د هند د کتابخانو د پښتو خطي نسخو فهرست» نوميږي، د علي محمد مُخلِص د يوې بې نومه منثوري رسالي يادونه هم سوې ده، چي د ميرزا خان اورمړ (انصاري) او ملا ارزاني خېشکي (د نوو مالوماتو له مخي تر ۱۰۲۸ هـ ق پوري ژوندی) د شعري ديوانو په پای کي راغلې ده . د دې  رسالې اصلي خطي نسخه  اوس په بنګال اېشياټيک سوسايټی کي خوندي ده. د زلمي هيوادمل د همدې فهرست له مخي، د علي محمد مُخلِص دا رساله د حق تعالی د ذات او صفاتو او د روح دحقيقت په باب خبري کيږي؛ او ځای ځای يې د موضوع د لا روښانتيا دپاره، خپل شعرونه هم راوړي دي . دغه راز، په دې رساله کي پر نبوي حديثو سربېره، د  وتلي او منلي عارف  -  مولانا جلال الدين بلخي  رومي (۶۰۴-  ۶۷۲ هـ ق) او ځينو روښاني شاعرانو ځيني بيتونه  هم  راغلي دي[۵]؛ اما ښاغلی زلمی هيوادمل، د علي محمد مُخلِص د دې بې نومه  رسالې د ټولومخو؛ او په هغې کي د نورو ځېړل سوو موضوعاتو په باب، هيڅ يادونه  نه کيږي .  ښه خو دا وه، چي د کتاب پېژندني له عامو او منلو اصولو سره سم يې د کتاب يا رسالې پر دغو اړخو هم څه ناڅه رڼا اچولې وای .

د يادوني وړ ده، چي د زلمي هيوادمل د هند د کتابخانو د پښتو خطي نسخو په همدې فهرست کي د علي محمد مُخلِص ددې رسالې د پېنځلسم مخ پښتو بيتونه، په واقعيت کي له هغې الفنامې څخه اخيستل سوي دي، چي د

هغه په پښتو دیوان کي راغلي ده . نظریه پرداز عارف، علي محمد مُخلِص، په خپله پښتو او پاړسي شاعري کي، د روح د عرفاني او فلسفي مفهوم، د هغي دبېلابېلو ډولو او نورو مرموزوځانګړتیاوو په اړه، خورا ژور ي او په زړه پوري نظریې وړاندي کړي دي. د روح په څېر عرفاني او فلسفي موضوعاتو په اړه، د علي محمد مُخلِص پښتو او پاړسي شاعري، په ریښتیا سره ډېره غني او په زړه پوري ده، چي وروسته یې په دې لیکنه کي ځیني بولګې وړاندي کیږي .

که څه هم د علي محمد مُخلِص ژوره پښتو او پاړسي عرفاني شاعري او د پښتنو د ژوندانه د بېلابېلو اړخوپه اړه د هغه معتبر تاریخي او عرفاني اثر (حالنامه) په یوازیتوب سره د خورا ډېرو تخلیقي او تحقیقي آثارو جواب وایي؛ خو سره له دې هم زه ګومان کوم چي له علي محمد مُخلِص څخه به ښایي ځیني نور منظوم یا منثور آثار هم پاته سوي یي، چي د زماني د جفاوو او بې رحمییو په وجه یا ببخي له منځه تللي دي؛ او یا متأسفانه تر اوسه پوري زموږ له سترګو پټ دي .

په پای کي د التباس او مغالطي د لیري کولو دپاره، د دې خبري یادونه ضروري بولم، چي تر علي محمد مُخلِص ډېر اوږده کلونه وروسته، د پښتو د معاصرو ادبیاتو په پراخه لمن کي، د «مُخلِص» په نامه دوه نور کندهاري شاعران هم تېر سوي دي، چي یو یې د پښتو صریح اللهجه ، ظریف او نقاد شاعر( ارواښاد حاجي ولي محمد مُخلِص۶) او بل یې د هغه زوی - ارواښاد عبدالرؤوف مُخلِص ( ۱۳۰۱- ۱۳۴۶هـ ش ) ؤ . د «مُخلِص» په تخلص مشهور دې دواړو شاعرانو، پر انتقادي نظریو، ژو اړخیزي شاعرۍ او ځانګړي ظرافت سربېره، په موسیقی کي هم بشپړ لاس لاره . زیاتره وختونه به یې دیرانو او انډیوالانو په بانډارو کي، خپل خواږه شعرونه د موسیقی په بېلابېلو مقاموکي وړاندي کول .

لمنلیکونه

۱ لوی استاد، علامه عبدالحي حبیبي، د محمد هوتک د «پټي خزانې» په لمن لیکونو (۱۱۱ مخ) او خپل بل اثر (تاریخ افغانستان در عصر ګورګانی هند) په یو سل و اتیایم (۱۸۰) مخ کي د نامتو مغولي مؤرخ (ابوالفضل علامي ) د « آئین اکبري » په اِستِناد لیکي، چي «شال» یا «شالکوټ»، د اکبري دورې په تشکیلاتو کي د کندهار د صوبې له ختیځو مربوطاتو څخه ګڼل کېده؛ او له تاریخي پلوه ، د کوټي د اوسني ښار په شاوخوا کي د هغي کلاه (قلعه) نوم دئ، چي کاسي پښتانه او بلوڅان پکښي اوسېده . د «شال» سیمه د پښتنو د ادب پالونکي ټولواک (شاه حسین هوتک) د پاچهی په زمانه کي، د صدر اکابر دوران (بهادر خان) په مېرانه ونیول سوه؛ او د کندهار د هوتکي سطنت تر واک لاندي راغله. تاریخي شال (اوسنی کوټه) د ډیورنډ ترکرغېږني او نامنل سوي کرښي وروسته په برتانوي هند؛ او له هند څخه د انګرېزانو تر وتلو وروسته، د پاکستان د بلوچستان په ایالت پوري و تړل سو. د یادوني وړ ده، چي د افغانستان د لوړ کونړ په ناوه کي هم د «شال» په نامه یو ځای سته، چي باید د پخواني کندهار له «شال» یا اوسنی کوټي سره ګډ نسي .

۲ د هندوستان مغولي د ربار، الهداد ته د «نواب رشید خان» د لقب په ورکولو سره، پراخي مځکي او لوړ حکومتي مقامونه ورکړه . په هندوستان کي د روښاني پښتنو دا غمخور مشر د خپلي واکمنی پر مهال په (۱۰۵۸ هـ ق) کال، په «اورنګ آباد» کي ومړ ؛ او هوري د خپل کور په بڼ کي ښخ سو. وروسته یي مړی د خپلوانو او مریدانو په غوښتنه له «اورنګ آباد» څخه د ګنګا د سیند پر غاړه د «رشید آباد» کلي ته یوړل سو؛ او

هلته د خپل کور په بڼ کي ښخ سو.  دا کلی، چي د «شمس آباد» په سيمه کي د همدي رشيد خان  له خوا جوړ سوئ ؤ، د ځينو روښاني مريدانو له خوا د اخلاص او اِرادت په بنه د «مرشد آباد» په نامه هم ياد سوئ دئ . «رشيد آباد» په حقيقت کي د علي محمد مُخلِص دکورنی په ګډون، په هندوستان کي د روښاني پښتنو د استوګي لومړنی ټاټوبی ؤ، چي د پښتنو وتلي عرفاني شاعر (دولت لواني)  يي هم په خپل ديوان کي يادونه کړې ده؛ او د نامتو شاعر - کريمداد روښاني  (په ۱۰۷۲ هـ ق کي مړ)  د زوکړي ځای هم دئ .

۳  دولت لواني د «فقير» د لقب په تر لاسه کولو سره، د پير روښان د عرفاني طريقت د خلافت مقام ته رسيدلیء  ؤ . په (۱۰۴۰ هـ ق) کال له ميرزا خان اورمړ (انصاري)  او نورو روښاني انډيوالانو سره،  د دکن په جګړه کي ټپي سو؛ او په خپل  شعري ديوان کي يي، د علي محمد مُخلِص په ياد، خورا سوزناکي ويرني يا مرثيي ويلي دي .

۴  د افغاني ليکوالو او څېړونکو په درو ښلو کتابو کي، د «حالنامي» د همدي اصلي نسخي د الماری نومرې په دې ډول ليکل سوي دي : «۹۲۰ ر ۳۸۰ ، ۹۲۰/۳۷۰ ، ۹۲۰ /۳۷» . ښايي په دې نومرو کي توپير، د چاپي تېروتنو له امله پېښ سوئ يي (والله و اعلم بالصواب).

۵  زلمی هيوادمل، <u>د هند د کتابخانو پښتو خطي نسخي يا د هند د کتابخانو د پښتو خطي نسخو فهرست</u> (کابل : پښتو ټولنه، د ژبو او ادبياتو مرکز، د افغانستان د علومو اکاډيمي، ۱۳۶۳) ۲۱۴ـ ۲۱۵.

۶  فاضل استاد اروابناد عبدالرؤوف بينوا، د خپل مشهوراثر  «اوسني ليکوال» په دريم ټوک (۱۲۱۳ مخ) کي، د حاجي ولي محمد خان مُخلِص د زوکړي او مړيني تاريخونه داسي کښلي دي : (۱۲۶۷  -  ۱۳۲۱  هـ ق) . د زلمي هيوادمل، په «فرهنګ زبان و ادبيات پښتو»  (۴۶۶  مخ) کي، دا تاريخونه په لږ توپير سره داسي ښوول سوي دي : (۱۲۵۹ـ  ۱۳۳۱هـ ق) . دمګړی دا سي سند په واک کي نه لرم، چي له مخي يي سم او ناسم په ګوته کړم .

## ۳-  اَبْدال :

ابدال، د الف په زْوَر، د بدل او بديل د جمعي حالت دئ،  چي په لغت کي عِوض، معاوضي، جبران، بدل، پتمن، نېک او  صالح  ته وايي۱.  په تصوفي او عرفاني بحثو کي، ابدال د خدای تعالی د دوستانو هغه ډله يا طبقه ده، چي شمېر يي څلوېښتو کسانو ته رسيږي۲. د « سفينة الاولياً » ليکوال  -  د شاه جهان زوی شهزاده محمد داراشکوه ( په ۱۰۲۴هـ ق/ ۱۶۱۵م کي زېږېدلئ؛  او په ۱۰۶۹هـ ق/ ۱۶۵۹م کي په ډيلي کي وژل سوئ) هم د د وليانو د دې ډلي شمېر څلوېښت تنه ليکلئ دئ؛ خو حسن عميد په خپل  دربې جلدي فرهنګ ( فرهنګ فارسی عميد) کي د دې ډلي شمېر له اوو څخه تر اوياوو کسانو پوري ښوولئ دئ۳  .

د خدای تعالی دا نېک بندګان، د وليانو په عمومي تشکيلاتي جوړښت کي تر   رجيونو او اخيارو (سرهنګانو) مخکي او تر اَبرارو وروسته ځای لري۴.  دونيا هيڅکله له دوی څخه تشه نه ده  .  عام خلک يي نه پېژني؛ خو  په عرفاني پوهه او باطني انوارو نوراني کسان يي، په ډېري اسانیسره پېژندلای سي . له هغوی سره خبري اود زړه خواله، د حقيقي پوهي او نورو برکتو د تر لاسه کولو سبب ګرزي . کله چي له ابدالو  څخه څوک، د بقأ عالَم ته رحلت وکړي، پر ځای يي دحق تعالی له خوا، د دې طبقي يا ډلي بل غړي ټاکل کيږي، چي د عرفاني او روحاني ولايت چاري سرته ورسيي۵ .

د ولايت  مقام ته رسېدلئ عارف، علي محمد مُخلِص، په يوه څلوريځه کي د  ابدالو په ګډون ټول اولياً د رحمت العالمين، حضرت محمد( ص) نور ګڼي :

اولیاء د حضرت نــور دي
ځیني پټ ځیني مشهور دي
ځینــي قطب، اوتاد بــولي
ځیني غوث، ابدال مذکور دي

مُخلِص په یوه پارسي قطعه کي، دې حقیقت ته ګوته نیسي، چي خدای خپلو مُخلِصودوستانو ته په ژوندانه کي د وصال زېرى اوخبر ورکيي :

« نه دور از خدا که ابدال و قطب را
کنـد آګاه ز رحلـــــت جزم خود پیش
که تـا پنـدی دهـند هنـــګام فرصــت
که وقت هجر دلهـا میشود ریش۶ »

**دنور مالومات دپاره وګورئ :** توحید او د هغه ډولونه (عام، خاص او خاص الخاص توحید)، نبي او ولي، ولي او ولایت، معجزه، کرامت او استدراج، کامل شیخ، کامل پیر، کامل انسان، نمونه انسان یاکامل التمام، کامل او آزاد، سرهنګان، ابرار، اوتاد، نقیبان، قطب، قطب الاقطاب، غوث یا صاحب الزمان .

لمنلیکونه

١ عمید ١ : ٨٧، ١: ٣٨۵ ؛ Wehr 46.
٢ رزمجو ٢٣٠ او هجویری ٢۶٩.
٣ دارا شکوه، سفینة الاولیأ ٩ .
۴ سجادی ٩ .
۵ عمید ١ : ٨٧ .
۶ مُخلِص، حالنامهء بایزید روښان ۶١٩ .

## ۴- ابدي یا تلپاته عالم: وګورئ دعالَم تر عنوان لاندي د لاهوت عالم